ژاك پرور

ژباړه: فرهاد ویاړ


۱۹ می ۲۰۱۱

## کورنی

مور ګنډل کوي

زوي جنګیږي

د مور په اند، دا یو ډیر طبیعي حالت دی.

*

- پلار څه؟ هغه څه کوي؟

-پلار کار کوي....

*

ښځه یې ګنډل کوي

زوي یې جنګیږي

په خپله کار کوي

د پلار په اند، دا یو ډیر طبیعي حالت دی.

*

- زوي څه؟

زوي یې اوضاع څنګه ویني؟

هیڅ... هیڅ.... هیڅ....

*

مور یې ګنډل کوي،

پلار یې کار کوي،

په خپله جنګیږي.

جنګ چې تمام شي، ویرځپلی پلار بیا کار پیلوي.

*

جګړه ادامه مومي

د مور ګنډل ادامه مومي

د پلار کار ادامه مومي

او زوی وژل شوی، نوره ادامه نشي ورکولی.

پلار او مور هدیرې ته ځي

د پلار او مور په اند، دا یو ډېر طبیعي حالت دی.

*

ژوند ادامه لري

ژوند

د ګنډلو، جګړې او له کار سره

له کار او جګړې او ګنډلو او جګړې سره

ژوند

له هدیرې سره.